محمدانور آخڼر ۲۰۱۷/۲/۲۸

فرهنګي ترهګري

د بامیانو د بودا مجسمو ورانول او تاریخي شالید(پسمنظر)

د لیکنو یا شفاهي تبلیغاتو له کبله د یو هیواد، قوم یا د یو انسان د سالمو اخلاقو، کلچر، ژبې، ذهنیت، تربیې، دود دستور او خویونو ته تغیر ورکول. د زور، غولونې یا ټګۍ برګۍ له لارې، جهل، بې سوادي او خرافات رامنځ ته کول. د ښوونځیو، دیني مدرسو او کتابتونونو له مینځه وړل. د پوهانو، شاعرانو، لیکوالانو، استاذانو، زده کوونکو او محصلینو وژل یا ډارول.
د یوه ملت د لرغونو، علمي او ادبي آثارو او شتمنیو له منځه وړل، لوټول، تغیر ورکول او یاورته زیان اړول چې په هغو کې تاریخي لرغوني توکي لکه: لیکل شوي اثار، تاریخي ودانۍ او نور داسې مهم اسناد او شواهد، چې په هغو کې د بشر یا د یوه قوم تاریخ، کلتور، عقاید یا د انسانانو د تېر ژوند نورې نښې نښانې بیان او پکې خوندي شوي وي، داسې اثارچې د یوه هېواد خلک او نړیوال یې په ورکیدو باندې خواشیني شي، لکه د چنګېز اعمال چې د نړۍ لوی، لوی ښارونه یې له خاورو سره خاورې کړل چې پکې لوی، لوی کتابتونونه اونورې ډېرې مهمې ودانۍ شاملې وې همدارنګه نن ورځ په عراق کې د داعش ترهګرې ډلې لخوا د کتابتونونو سوزول، د پېغمبرانو مړیستونونه ورانول، د شعیه ګانو د عبادت د ځایونو الوزول، د نمرود(*) تاریخي ښار په ماشینونو نړول او نورې دې ته ورته کړنې.

هغه مهال چې د کابل ښار د جهادي تنظمونو لاس ته ولوید نو د ښار ډېره برخه یې د خاورو سره برابره کړه تاریخي اثار یې په خپل منځي جګړو کې وران کړل او هغه تاریخي اثار چې د کابل په موزیم کې موجود وو او د نړۍ له ډېرو لرغونو اثارو څخه شمېرل کیدل لوټ، غلا او د نړۍ په بازارونو کې یې خرڅ کړل، کتابتونونه چورشول چې څه یې په پاکستان کې خرڅ کړل او یوه لویه برخه یې د تش په نوم مجاهدینو د حماقت، جهالت او تربیت له وجې په نغریو او بُخاریو کې وسوزول شول، دوی د خپلو ناپوهیو له امله په دې عقیده وو چې د ډاکټرنجیب الله د حکومت د واک لاندې سیمو کې هر څه کفري او کمونستي دي نو سوزول او له منځه وړل یې د ثواب کار دی. او ځیني نور پښتو کتابونه د هغو نورو توکمپالو ترهګرو ډلو لخوا چې د پښتنو او پښتو ژبې سره یې تعصب او بې ځایه مخالفتونه درلودل وسوزول شول.
په افغانستان کې له ټولو څخه د فرهنګي ترهګرۍ ښه بېلګه د بامیانو د بودا مجسمو ورانول دي، چې د طالبانو لخوا په توپونو او ټانکونو باندې وویشتل شول او وران یې کړل، چې د دوی په دې عمل باندې د ټولې نړۍ خلک، هغه که هر څوک وو سخت خواشیني شول.
د بامیانو د بودا مجسمې د کوشانیانو د حکومت په دوره کې توړل شوي وې،(۴۰ـ ۲۲۰ ز) د بامیانو د غرونو تیږې د مجسمو د توړلو لپاره ښې او مناسبې وې، نو له دې امله کوشانیانو د بودا دوه لویې مجسمې چې په ټوله نړۍ کې یې ساری نه و په ځانګړي هنر، پوهه او سبک باندې وتوړلې، چې یوې یې(۳۵) متره او بلې یې (۵۳) متره لوړوالی درلود، دا مجسمې د نړۍ له حیرانوونکو عجایبو څخه شمېرل شوي وې چې د نړۍ له لیرې پرتو سیمو څخه ورته زایرین راتلل تر دې چې په اسلامي پېړۍ کې هم د مجسمو د لیدلو لپاره زموږ ګران هیواد ته د نړۍ له ګوټ، ګوټ څخه ګرځندویان(سیاحان)

افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

راروان وو، چې په اقتصادي او فرهنګي برخه کې موږ ته ډېره ګټه رسيدله. دغو مجسمو د افغانستان (۱۸۰۰) کلن تاريخ په پټه خوله بيانولو. په دې اړه مرحوم ميرغلام محمد غبار په خپل تاريخ (افغانستان در مسير تاريخ) کې وايي:**«فقط چيزيکه از جمال و کمال باميان قديم حکايت ميکند همانا پيکرهای سرد و خاموش اصنام باميان است که به هيچ گونه پيرايه وزينتی در قبرهای سرگشاده وعمودي خود پشت به کوه داده و استاده اند.»** (۲۱۲مخ)

دغو مجسمو ته د تاريخ په اوږدو کې ډول ډول زيانونه اوښتي دي؛ لومړی دا چې په څلورمه هجري پېړۍ کې د عربو د يرغل له امله چې د(۵۳) متری مجسمې کار لا نه ؤ بشپړ شوی او د باميانو ښار چې د پېښور او بلخ په لويه لاره پروت و د مجسمې داخلي پوړۍ ورانې شوې.
نوموړو مجسمو ته په دوهم ځل هغه مهال زيان ورواوښت چې د يرغلګر او غله نادر افشار لخوا د توپونو پر ګولیو وويشتل شوه او د (۵۳) متره مجسمې پښې ورانې شوې.
دريم ځل په(۱۹) ميلادي پېړۍ کې هغه مهال چې د اميردوست محمدخان ميرمن د باميانو له لارې تېرېدله په دې پلمه چې ګواکې مجسمې لوڅې دي، نو امر يې وکړ تر څو په توپ وويشتل شي چې له امله يې لاندنۍ برخه ورانه شوه. (ميرغلام محمد غبار: افغانستان در مسير تاريخ، ۲۱۲،مخ)
او په څلورم ځل طالبانو د ۱۹۹۸ زېږديز کال د سپتمبر په ۱۴مه د باميانو ښار ونيو او د طالبانو يوه ملا د باميانو د لويې مجسمې سر چې پخوا هم زيانمن شوی ؤ د ټانګ په مرمۍ والوزاوه ... . (کانديد اکاډميسين محمدابراهيم عطايي: د افغانستان پر معاصر تاريخ باندې يوه لنډه کتنه ۴۱۰،مخ)
په پای کې يادې مجسمې د ملاعمر په امر په بشپړه توګه ورانې شوې(کب/۱۳۷۹، ل، ل) مخکې له هغې چې طالبان د مجسمو پر ورانولو پيل وکړي د مصر له هيواد څخه د مصر مفتي او د الازهر(۱۲۰۰) کلن پوهنتون څخه اسلامي پوهان او د اسلامي نړۍ د علماوو مشر علامه ډاکټر محمديوسف قرضاوي د کندهار ښار ته راغلل او د طالبانو مشرانو ته يې توصيه وکړه چې د راتلونکو ناوړو عواقبو او د مصلحت پخاطر مجسمې ورانې نه کړي او وړاندوينه يې وکړه چې د مجسمو ورانول به په نړۍ کې د مسلمانانو لپاره ډېرې له خطره ډکې پايلې ولري، خو له بده مرغه چې د طالبانو مشران د کبر، غرور او لويې ناپوهۍ په سمندر کې غرق وو، د هيچا خبرو او مشورو ته يې يوه زره ارزښت ورنه کړ او خپلو سرتمبه ګيو ته تمبه وو، سره له دې چې همدغو طالبانو يو ځلې نړيوالو ته د مجسمو د نه ماتولو او ساتلو ډاډ هم ورکړی ؤ او په خپله يې فتوا ورکړې وه چې په اوس وخت کې د دغو بُتانو عبادت نه کيږي نو موږ يې نه ماتوو، خو وروسته يې د خپلې بې عهدۍ او بدقولۍ له امله هماغه کړې فتوا تر پښو لاندې کړه چې په دې بنسټ طالبان او مشر يې **ملاعمر د تاريخ په پاڼو کې د بت شکن پر ځای د تاريخ شکن په نوم ثبت شو.**
په دې جريان کې د پاکستان د کورنيو چارو وزير د څو تنو ديني علماوو سره کندهار ته راغی او له ملاعمر څخه يې هيله وکړه چې د بودا مجسمې ورانې نه کړي، ملاعمر د نړيوالو په دې ډول غبرګون باندې حيران پاتې ؤ، هغه وويل: **«والله که موږ پوهيږو چې ټوله ولې دونه وارخطا دي، موږ خو صرف ډېرې ورانوو.»**

امريکايي ليکوال ستيوکول د بودا د مجسمو د ماتولو په اړه د ملامحمدعمر د خولې خبرې چې د پاکستاني پلاوي سره يې کړي وې په دې ډول ليکلي دي: ... يو بُت (۱۲۰) فټه او بل يې (۱۷۵) فټه لوړ وو. پر دغو بُتانو باندې کارول شوي جواهرات لا ډېر پخوا زمانو کې ترورل شوي وو او مخونه يې د پخوانيو مسلمانو حاکمانو پر لاسونو ويجاړ شوي وو. خو تنې يې پرځای ولاړې وې د طالبانو د

افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

دې ناوړه کار پر خلاف ټولې نړۍ داسې شوک او غبرګون وښود چې دا ډول غبرګون د ملیشو پر لاس د ملکي افغانانو د ډله ایيزو وژنو په هکله نه ؤ ښودل شوی. لرغون ساتونکو او حکومتونو د بُتانو د نه ویجاړولو لپاره غوښتنې وکړې، ملا عمر حیران پاتې ؤ، ویل یې«**... موږ نه پوهېږو چې ولې ټول دومره وارخطا دي هغه څه چې موږ کوو، هغه یوازې د ډېرو ماتول دي.**» د نړۍ د ډېرو بودایی مذهبه هیوادنو مشرانو پر پرویز مشرف باندې زور واچولو چې مداخله وکړي او طالبان له دغه ناوړه کار څخه منع کړی. مشرف، معین الدین حیدر کندهار ته واستاوه چې له ملا عمر سره خبرې وکړي نوموړی د اسلامي سلاکارانو په ګډون کندهار ته ولاړ... وروسته له کیناستو، څخه، ملاعمر میلمنو ته وویل:«**موږ له شپږو میاشتو بحث څخه وروسته دې پایلې ته ورسیدو چې باید بُتان مات کړو.**»

په ځواب کې حیدر د قرآن کریم یو **آیت** ولوست چې مسلمانان د نورو دینونو د خدایانو سپکاوی ونه کړي، نوموړي د تاریخ په اوږدو کې په تېره په مصر کې، د ګڼ شمېر پېښو یادونه هم وکړه چېرې چې مسلمانانو د نورو ادیانو د بُتانو او هنرونو ساتنه کړي وه... حیدر وپوښتل چې ... هغو [مسلمانانو] د یو نیم زرو کلونو راپه دیخوا دغو بُتانو ته څه ضررنه ؤ رسولی، دوی خوهم ټول مسلمانان وو، نو ستا له هغو سره څه توپیر دی؟.

ملاعمر یې په ځواب کې وویل: «**ښایي چې هغوی یې د ماتولو لپاره وړ تکنالوژي نه درلودله**» زیاته یې کړه: «**د دې ویره لري چې د قضأ پر ورځ به خدای[تعالَی] څه ورته وایی.**»

... عمر وویل: «**... الله به مې وپوښتي، عمره! تا د شوروي پر نوم یو زبرځواک پر ګونډو کړی ؤ، دوه بُتان د نه شول ماتولی؟ نو ملاعمر به څه ځواب ورکوي؟**»

لیکوال وړاندې ځې او ښه په خوند سره د ملاعمر انځور اخلي وایي: ملا عمر چې خپله یوه روغه سترګه یې په میلمنو کې خښه کړي وه، خپلو خبرو ته یې دوام ورکړ:«**... د قیامت پر ورځ به دا ټول غرونه په شګو(ریګونو) بدل شي او هوا ته به والوزي، که چېرې دا بُتان په دې بڼه د الله مخې ته ودرېږي، نو بیا به څه وي؟ بیا به نو ملاعمر خدای ته پر کوم مخ ورځي؟!.**»(دپیریانو جګړې ۸۰۵،مخ)

د پاکستان پخوانی پوځي مشر جنرال پرویز مشرف د بامیانو د مجسمو د ورانولو په هکله د ملا عمر خبرې د ده لخوا د لېږل شوي پلاوي له قوله وایي چې: ... ملاعمر یو آرام سړی ؤ،عمر وویل:«**له ما څخه خدای[تعالی] غوښتنه کړي ده چې دغو مجسمو ته چاودنه ورکړم، ځکه چې د اوږدو کلونو راپدیخوا خدای بارانونه اورولي دي، تر څو د مجسمو لاندې لوی، لوی سوري جوړکړي ترڅو په هغو کې باروت(ډاینمیټ) ځای پر ځای شي، دا د خدای د امر ښکاره نښه ده چې باید بُتان وران شي.!**»(درخط آتش، ۳۳۵مخ)

د بامیانو دغه بې مثاله مجسمې چې د سیمې تاریخ او هنر په کې نغښتی ؤ، هغه وخت د پردیو په د ستور او د هغوی د ګوډاګیانو په وسیله په بشپړه توګه ونړول شوې چې د طالبانو مشر ملامحمدعمر خپل د دفاع وزیر ته وویل تر څو مجسمې ورانې کړي، ملا وزیر صاحب په بامیانو کې خپلو جنګي ځواکونو ته امر وکړ چې د مشر ملا صاحب حکم پلی کړي، د طالبانو ځایي ځواکونو د مجسمو له ورانولو څخه ډډه وکړه او وروسته د دفاع وزات لخوا، له کابل څخه ځانګړي ځواکونه چې عرب او چیچن یاغیان وو، وروليږدول شول. (بي، بي، سي، رادیو) او د ټانکونو او توپونو په ډزو یې د مجسمو ورانول په ۱۳۷۹/۱۲/۱۲، ل، نیټه په ډېرې بې رحمۍ سره پیل کړل او تر څو ورځو پورې د بودا په بې روحه او بې ضرره مجسمو باندې د درندو وسلو ډزې رواني وې.

د طالبانو دغه ترهګر عمل په ټوله نړۍ کې شور او زوږ راپورته کړ د نړۍ خبرې رسینو نارې سورې وهلې چې دا د بشریت میراث دی دا د ټولو نړیوالو حق دی دا د یوه هیواد حق نه دی، خو په

افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

عمل کې هېڅ یوه هیواد او د ملګرو ملتونو سازمان کومه مداخله ونه کړه، تر څو دا د بشر میراث له ورانولو څخه وژغوري، تر هغې چې مجسمې په بشپړه توګه ورانې او ویجاړې شوې!.
وروسته همدغو ورانکارانو د بودا د مجسمو ماتې ټوټې پاکستان ته په لویو لویو ګاډو کې د خرڅولو لپاره یوړلې چې په دې ترتیب یې خپلې ډول ډول ترهګریزې کړنې نړیوالو ته ښکاره کړې.
د بامیانو مجسمې د نړۍ تر ټولو ستر ترهګر(ظالم) چنګېزخان هم ماتې نه کړې په داسې حال چې د بامیانو په سیمه کې نوموړي هر څه تباه کړل، هغه مهال چې د چنګېزخان لمسی(موتوجن) د چغتای زوی(۶۱۶ـ ۶۱۸،ه) چې په بامیانو کې ووژل شو، نو مغلو د بامیانو ښار له هره اړخه وران او ویجاړ کړ، سړي، ښځې او ماشومان یې ذبحه کړل، سپي، پیشوګانې او نور ټول ژوي یې ووژل، هر ډول نباتات یې له بېخه وایستل، کورونه، دیوالونه او ټولې ودانۍ یې ونړولې او دغه خاورې شوی ښار یې دغمونو ښار ونوماوه. (ظفرکاکاخېل: پښتانه د تاریخ په رڼا کې ۳۱۹مخ)
ګوډ تیمور چې له چنګېزخان څخه په ظلم او افراط کې کم نه ؤ د بامیانو مجسمو(تیږو) او د مړو سره جګړه کول یې یو ناځوانه عمل بللی دی په دې اړه تیمور وایي: «داسې ځای ته ورسیدو چې هغه ته یې بامیان ویل؛ دا پخوا د نړۍ د لویو بُتخانو ځای ؤ او د لویو لویو بُتانو نښې تر اوسه پورې لیدل کیدلې چې د حجارۍ په وسیله یې له تیږو څخه بُتان را ایستلي وو، بُتان دومره لوی وو چې که غوښتلې دې وای هغه وران کړې نو ډېر وخت ورته په کار ؤ تر څو د هغوی په ورانولو باندې بریالی شوی وای، هغه وخت چې زه بامیانو ته ورسیدم په بامیانو کې بُت پرستان نه وو خو بُتان موجود وو، ما نه وخت درلود چې د بامیانو بُتان وران کړم او نه مې له دغه کار سره مینه درلودله، زه د ژوندیو سړیو سره جنګیدلی یم او هېڅکله د بې روحه او بې ودې شیانو جګړې ته نه یم تللی او د منجمدو تیږو سره جګړه کول له خپل شان څخه لېرې کار بولم، ما په سلګونو ژوندي انسانان په خاورو کې غورځولي[وژلي] دي خو هېڅکله د مړو جګړې ته نه یم تللی او تر اوسه مې یو د مړي مړیستون نه دی راسپړلی چې د چا جنازه له قبر څخه راوباسم او اور پسې واچوم او دا ډول عمل چې هر څوک ترسره کړي ناځوانه عمل دي.» (ګوډ تیمور: منم تیمور جهانګشا ۲۵۳مخ)
د بامیانو مجسمې د مسلمانانو لپاره د ځمکې پر مخ د یو باطل دین نښې وې او د مسلمانانو او نورو لپاره د عبرت او پند غوره اثار وو او د رښتینې خدای د ثبوت لپاره ډېر ښه دلیل ؤ، په دې مانا چې د لوی خدای عبادت تر قیامته پورې کیږي او د باطلو خدایانو عبادت لنډمهالی وي، لکه د همدغه بودا بُتانو عبادت چې پخوا په بامیانو کې ترسره کیده او اوس یې څوک نه لمانځي. د انسانانو د پوهاوي، اصلاح او د پخوانیو خلکو د پېژندلو او د ځمکې پر مخ د تېرو خلکو د نښو نښانو په اړه الله تعالی په لاندې آیتونو کې څه ښه فرمایلي دي:
قُلْ سِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَانظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِينَ مِن قَبْلُ ۚ كَانَ أَكْثَرُهُم مُّشْرِكِينَ (۳۰: ۴۲)
ژباړه: «ووایه! په ځمکه کې وګرځئ او وګورئ چې د پخوانیو خلکو عاقبت څنګه وو؟ چې اکثر د دوی مشرکان وو.» (روم: ۴۲)
أَوَلَمْ يَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَيَنظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِينَ كَانُوا مِن قَبْلِهِمْ ۚ كَانُوا هُمْ أَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةً وَآثَارًا فِي الْأَرْضِ فَأَخَذَهُمُ اللَّهُ بِذُنُوبِهِمْ وَمَا كَانَ لَهُم مِّنَ اللَّهِ مِن وَاقٍ (۴۰: ۲۱)
ژباړه» :ایا دوی په ځمکه نه دي کرځیدلي چې وګوري د هغو خلکو عاقبت چې پخوا له دوی څخه وو؟ هغوی له دوی څخه زیات ځواکمن وو او له دوی څخه یې زیاتې قوي نښې نښانې په ځمکه کې پرې ایښې دي، خو الله هغوی پر خپلو ګناهونو ونیول او له الله څخه د هغو ژغورونکی هېڅوک نه ؤ«.(مومن :۲۱)

افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

أَفَلَمْ يَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَيَنظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ۚ كَانُوا أَكْثَرَ مِنْهُمْ وَأَشَدَّ قُوَّةً وَآثَارًا فِي الْأَرْضِ فَمَا أَغْنَىٰ عَنْهُم مَّا كَانُوا يَكْسِبُونَ[٤٠:٨٢]

ژباره» :ایا دوی په ځمکه کې نه دي کرځیدلي چې د هغو خلکو عاقبت ووینې چې له دوی څخه پخوا تېر شوي وو؟]هغوی [له دوی څخه په شمېر کې زیات وو، له دوی څخه زیات قوي وو او په ځمکه کې یې له دوی څخه زیات ځلانده آثار پرې ایښي دي، کومه ګټه چې هغوی کړي وه، هغه د دوی د درد دوا نه شوه« .(مومن :٨٢)

د پورته آیتونو په شان په قرآن عظیم کې په لږ توپیر سره لاندې آیتونه هم راغلي دي چې خلک دې ته رابولي تر څو د تیرو زمانو پاتې شوني وګوري او عبرت ترې واخلي او د یوه خدای) ج (عبادت وکړي) .سورت، روم: ٩؛ محمد: ١٠؛ نمل: ٦٩؛ حج: ٤٦؛ یوسف: ١٠٩؛ سورت العمران ١٣٧ آیتونه(

د مصر د فرعونیانو د سلسلې پاچاه)دوهم رامسس، ١٢٧٩-١٢١٣، ق، م (چې ځان یې خدای بللی ؤ، لوی څښتن د خلکو د عبرت لپاره د ده جسد د قیامت تر ورځې پورې د ځمکې پر مخ باندې خوندي وساتلو، الله تعالَی په دې اړه په سورت یونس ٩٢ آیت کې فرمایي:

فَالْيَوْمَ نُنَجِّيكَ بِبَدَنِكَ لِتَكُونَ لِمَنْ خَلْفَكَ آيَةً ۚ وَإِنَّ كَثِيرًا مِّنَ النَّاسِ عَنْ آيَاتِنَا لَغَافِلُونَ [١٠:٩٢]

ژباړه:« نن ورځ به خلاصی درکړو تا ته په بدن سره، لپاره د دې چې شې لپاره د هغو چا چې وروسته له تا راځي(لوی) آیت [دلیل د عبرت].»

لکه څرنګه چې الله تعالَی د ځمکې پر مخ د فرعون جسد د خلکو د عبرت لپاره ساتلی دی همدا شان په مصر کې نور لرغوني آثار، د بامیانو بُتان، په عراق کې د نمرود ښار او په نړۍ کې د ټولو لرغونو توکو ساتل د انسانانو د پوهاوي او عبرت لپاره ډېر اړین دي، لکه څرنګه چې دویم خلیفه حضرت عمر)رض (د مصر د فتح په ورځ ټول بُتان او نور تاریخي توکي محفوظ وساتل او چا ته یې د ورانولو اجازه ورنه کړه .

الله)ج (موږ مسلمانان د نورو ادیانو معبودانو ته له کنځلو کولو څخه په ټینګه سره منع کړي یو، نو کله چې لوی څښتن موږ دکنځلو څخه منع یو، ښکاره ده چې له ورانولو او ویجاړلو اجازه خو هېڅکله نه لرو، په دې تړاؤ رب العالمین فرمایي :

وَلَا تَسُبُّوا الَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ فَيَسُبُّوا اللَّهَ عَدْوًا بِغَيْرِ عِلْمٍ ۗ (٦ :١٠٨)

ژباړه:« او کنځل مه کوئ]ای مومنانو [هغو]معبودانو [ته چې عبادت کوي دغه]کفارد هغوی [بې له الله، نو کنځل به وکړي دوی] هم [الله ته په ناحقه سره بې له پوهې.» (انعام: ١٠٨)

الله تعالی چې لوی عالم دی او د ده په شان بل عالم نه شته نو په دې پوهیږي چې د مشرکانو معبودانو ته کنځل کول یا زیان اړول مسلمانانو ته ناوړه او خطرناک عواقب لري او ښکاره خبره ده چې د مشرکانو او یا نورو معبودانو ته چې هر ډول سپکې سپورې وویل شي او یا ویجاړ شي د هغوی پیروان خامخا غبرګون ښکاره کوي، سره له دې چې د بودا مجسمو د ماتولو په غبرګون کې بودایان زموږ خدای ته هېڅ ډول زیان نه شي اړولی، خو زموږ مقدساتو او مسلمانانو ته زیان رسوي، لکه د برما په هیواد کې، هغه وخت چې طالبان د بودا مجسمو پر ورانولو لګیا وو تر)٥٠٠ (تنو پورې مسلمانان شهیدان او له)١٥٠٠ (تنو پورې ټپیان شول .(د حبیب الله رفیع لیکنه :د بتانو هنګامه)

د بامیانو د بودا مجسمو د ورانولو پر وړاندې د بودایانو بل غبرګون د حوت په ١٣٧٩/٢٨ل، ل کې تندروو هندوانو د ډیلي په ښار کې قرآن کریم وسوزولو او هم د هند د بیهارپه ایالت کې په تظاهُراتو کې) ٩ (تنه مؤمنان او)٢ (تنه پولیس ووژل شول، همدا شان د حمل په ١٣٨٠/٣ل، ل کال په هند کې د خیرالدین په دوه سوه کلن مسجد کې هندوانو د بودا د مجسمو د ماتولو په ځواب کې د خنځیر مرداره غوښه وغورځوله او هم یې څو ټوکه قرانونه وسوځول .(بی بی سی او امریکا غږ راډیوګانې)

افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

باید ووایو چې کندهار ته د مصر او قطر څخه راغلو علماوو طالبانو ته همدغه ډول وړاندوینه کړي وه چې که تاسې د بودا مجسمې ورانې کړی نو پایله به یې د نړۍ مسلمانانو لپاره ډیره خطرناکه وي.
طالبان چې له هر ډول پوهې څخه لرې پاتې وو، په ځانګړې توګه په اسلامي فقه باندې په نړیواله کچه نه پوهیدل داسې غیر منطقي استدلال یې کاوه چې دا بتان ځکه ماتوو چې په پخوا زمانو کې یې عبادت شوی دی، د دوی دا دلیل له اسلامي احکامو، منطق او عقل څخه لرې دی، ځکه چې داسې ډېر څه شته چې په پخوا زمانو کې یې عبادت شوی دی لکه د لمر او سپوږمۍ، چې د هغو ماتول یا له منځه وړل ناشونی کار دی، او په دې هکله قرآن عظیم د (سجدې سورت په۳۷ آیت) کې فرمایلي دي:
لَا تَسْجُدُوا لِلشَّمْسِ وَلَا لِلْقَمَرِ وَاسْجُدُوا لِلَّهِ الَّذِي خَلَقَهُنَّ إِن كُنتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ (٤١ :٣٧)
ژباړه:« لمر او سپوږمۍ ته سجدې مه کوئ بلکه هغه خدای ته سجدې وکړئ چې دا یې پیدا کړي دي که په رښتیا سره تاسې د هغه عبادت کوونکي یاست.»
همدا رنګه د نمل سورت په ۲۴ آیت کې د بلقیس او د هغې د قوم په باب راغلي دي:
وَجَدتُّهَا وَقَوْمَهَا يَسْجُدُونَ لِلشَّمْسِ مِن دُونِ اللَّهِ وَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطَانُ أَعْمَالَهُمْ فَصَدَّهُمْ عَنِ السَّبِيلِ فَهُمْ لَا يَهْتَدُونَ (٢٧ :٢٤)
ژباړه :« ومې موندله دغه ښځه او قوم د دې چې سجده کوي دوی لمر ته بې له الله«. ...
او په لرغوني مصر کې لمر چې د (آتون) په نوم یې بللو هم عبادت ورته شوی دی.(هاشم رضیَ : تاریخ ادیان دوهم ټوک۵۹۰ مخ؛ د ډېرو مالوماتو لپاره د مصر د فرعونانیانو ځانګړي طبیب سینوهه کتاب(سینوهه) ولولئ .
طالبانو دا دلیلونه ویل چې ابراهیم(ع) بُتان مات کړي وو؛ محمد(ص) هم بتان مات کړي دي، نو په دې بنسټ باید موږ هم د بامیانو بتان له منځه یوسو.
هغه بُتان چې ابرهیم)ع (مات کړل د ده پلار او د ابراهیم)ع (قوم د هغو عبادت کولو نو باید مات شوي وای، اوس مهال د بامیانو مجسمو هیڅ ډول عبادت نه کیده، په دې بنسټ د طالبانو دا دلیل د توجیه وړ نه دی.
بله دا چې کله مکه مکرمه د محمد(ص) لخوا فتحه شو په کعبه شریفه کې یې ټول بُتان مات کړل، په دې ټول پوهیږو چې کعبه شریفه د الله تعالَی سپیڅلی ځای دی نو ځکه خو الله(ج) ابراهیم او اسمعاعیل(ع) ته امر کړی ؤ چې کعبه شریفه دې پاکه وساتي، په دې هکله چې کوم آیتونه راغلي دي طالبانو په ناسمه توګه درک کړي دي، وګورئ لاندې آیتونه او قضاوت وکړئ:

وَإِذْ بَوَّأْنَا لِإِبْرَاهِيمَ مَكَانَ الْبَيْتِ أَن لَّا تُشْرِكْ بِي شَيْئًا وَطَهِّرْ بَيْتِيَ لِلطَّائِفِينَ وَالْقَائِمِينَ وَالرُّكَّعِ السُّجُودِ (٢٢ : ٢٦)
ژباړه :«یاد کړه هغه وخت چې موږ د ابراهیم لپاره د دغه کور)د کعبې د خونې (ځای ټاکلی ؤ)له دې هدایت سره (چې، له ما سره هیڅ شی مه شریکوه او زما کور د طواف کوونکو او قیام او رکوع او سجده کوونکو لپاره پاک کړه .»(حج: ۲۶) د بقرې سورت په ۱۲۵ آیت کې هم پورته موضوع راغلي ده .

په پای کې به ووایو چې :په درست قرآن کریم کې د الله پاک له لوري داسې هدایت نه دی راغلی چې مسلمانان دې د نورو ادیانو معبودان وران کړي، برعکس لکه چې ومو لوستل، الله تعالی مومنان د نورو ادیانو معبودانو ته حتَی د کنځلو کولو څخه هم منع کړي دي.

افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

لکه څرنګه چې الله تعالَی د ځمکې پر مخ د فرعون جسد د خلکو د عبرت لپاره ساتلی دی همدا شان هغه نښې نښانې چې له پخوانیو خلکو څخه پاتې دي، په نړۍ کې د ټولو لرغونو توکو ساتل د بشر د عبرت لپاره ډېر اړین دي، تر څو د دا ډول پاتې شونو په لیدلو سره موږ او راتلونکي نسلونه د پخوانیو قومونو په حالاتو باندې پوه شي او د هغو مجازاتو او مکافاتو چې خدای تعالی پخوانیو قومونو ته ورکړي دي خبر شي.

که د طالبانو او داعش په شان د تیرو زمانو اثار له منځه یوړل شي او د ځمکې پر مخ د لرغونو توکو نښې نښانې پاتې نه شي نو د قرآن حکیم د روم سورت ۴۲ آیت؛ د مومن سورت ۲۱، او ۸۲، آیتونو او همدا شان د قرآن عظیم د نورو ډېرو احکامو تطبیقول ناشوني کار دی، په دې بنسټ هېڅوک حق نه لري لرغوني توکي چې د اسلام سپیڅلی دین وسیله او په دې پلمه یې له منځه یوسي.

د بامیانو د مجسمو د ماتولو له امله مسلمانانو ته په نړۍ کې سخت زیانونه ورسیدل، د بودایانو لخوا په سلګونو مسلمانان شهیدان شول، قرآنونه وسوزل شول، د خدای تعالَی د کورونو بې عزتي وشوه، دغو ناوړه کړنو ته د طالبانو لخوا بودایان اړ شول چې په ځواب کې زموږ د دین بې عزتي وکړي، نو ځکه خو طالبانو ته د دواړو جهانونو مسؤلیت ورپه غاړه دی .په پای کې لاندې شعر وړاندې کوم:

مـهـاتـمـا ګـوتـم بـود

د بـامـیـانـو غـرونه ژاړي په ژړا نن ـ چې په تـوپـو او ټانـکو ولـي بـودا نن

***

ګوره ولي خپل هنر په توپو باندې ـ خپل فرهنګ یې کـړلو داسـې تر پښو لاندې
ځکه غوځي شولي زموږ د زړونو مراندې ـ تاریخ ژاړي دوی شنه کړي دي خندا نن
چې په توپو او ټانکو ولي بودا نن
ابراهیم چې بُتان مات دا یې سبب ؤ ـ پلار یې بُت ته سجدې کړلې بُت یې رب ؤ
ځکه خپل قوم او کهول ته په غضب ؤ ـ ته خو نه یې پیمغبر چې کوې دا نن
چې په توپو او ټانکو ولي بودا نن
ګوره څه رنګ یې تباه دا ګوتم بود کړ ـ دې نادانـــــــو د تاریخ شاهد نابود کړ
هک حیران یې مسیحي هندو یهود کړ ـ په اسلام کې نه شته دا رنګه فتوا نن
چې په توپو او ټانکو ولي بودا ننا
تباه کـــــړی د بامـیانو ښار چـــنګیز ؤ ـ لـوتې لـوتې ونې بـوټي ربـزمـــرپز ؤ
د بودا له مـــــاتـــولـــو په ګریز ؤ ـ اوس په ویاړ یې مـــاتـــوي دا نیم مـــلا نن
چې په توپو او ټانکو ولي بودا نن
خدایه څه رنګ یې بدنام بدنام اسلام کړ ـ بل یې خاورو سره ګډ د پښتون نام کړ
هم یې وران د عـلـم پوهې اوچت بام کـړ ـ ده راغلي په وطـــــن لویه بلا نن
چې په توپو او ټانکو ولي بودا نن
ګوره تا پخپله تنده کیښود داغ تور ـ په دې کار باندې باز نه شوې، شولې زاغ تور
تاریخ نه بخښي هیڅکله درته دا پور ـ ته قاتل دخپل تاریخ شوې په رښتیا نن
چې په توپو او ټانکو ولي بودا نن
نه به ته لکه محمود شې بُت شکن جوړ ـ نه به کړې په دغه کار دین او وطن جوړ
درست عالم دې کړود ځان هسې دښمن جوړ ـ تا کړو ځان داسې رسوا رسوا ملا نن
چې په توپو او ټانکو ولي بودا نن

افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

۱۳۷۹/۱۲/۱۲،ه،ش

محمدانور(آخړ)خوست

هغه مهال چې طالبان په واک کې وو، دغه شعر ما د)بي بي سي (راډيو ته د طالبانو له ټليفونخانې څخه فکس کړ، په داسې حال کې چې زه خبر نه وم ټليفونخانه د طالبانو ده، له نېکه مرغه چې د مسؤل طالب پام نه شو، خو له بده مرغه چې له بي بي سي راډيو څخه د ښاغلي داؤد جنبش په غږ کې يوازې دوه بيتونه خپاره شول.

(*) په لرغوني عهد(تورات) د پيدايښت په سِفر(۸)آيت کې نمرود د کوش زوی د يو زړور کس په توګه ياد شوی دی، خو د قرآن حکيم د بقرې سورت په(۲۸۵) آيت کې يې هم يادونه شوې ده، نمرود ابرهيم)ع (ته په مناظره کې وايي :زه هم خدای يم که ستا خدای خلک مړه کوي يايې ژوندي کوي نو زه هم دا کار کولی شم ...په پای کې ابراهيم(ع) غالب او نمرود پړ شي.

ـ قرآن کريم :کابلی تفسير، پښتو ژباړه.

ـ قرآن کريم :د مولوي قيام الدين کشاف، پښتو ژباړه.

ـ قرآن ذکر :فارسي ژباړه، www.Win۲Farsi.com

پای

افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ